مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۴/۰۵/۱۴

# د پوهنتون خاطرې

## (۲۳)




ور مې ورو ټیله کړ؛ خو خلاص نشو. له د ننه خوا بند و. تر قلفک لاندې یو کوچینی سوری و. هغه ته مې سترګه داسې ور برابره کړه لکه لابراتوار والا چې مایکروسکوپ کې په وینه ککړ سلایډ ته ګوري. عجیبه تماشا وه. ځوان ورو – ورو تاویده او کله کله یې لاسونه هم خوځول. دا ځوان د کابلیانو په خبره، ښه چهار شانه او قد بلند و؛ خو ماین یې ځواني کنډو کړې وه. یوه پښه یې له زنګانه ښکته نه وه او دنګه ځواني یې پر یوې اصلي او یوې پلاستیکي پښې ولاړه وه. خدای خبر کوم چورت کې تللی و. د کوم غم د هیرولو ریاضت یې کاوه. تر ډېره ورته ولاړ وم او بیا غلی خپل اتاق ته لاړم.

دا زلمی د دري ادبیاتو محصل و. کال مو سره شریک و؛ خو پوهنځي مو جلا ول. په هغه ورځ زموږ اتاق ته راغلو. پلاستیکي پښه یې څنګ ته ودروله او چپرکټ کې یې ډډه ووهله. خبرې روانې وې. هر ملګري خپل مهارتونه بیانول. چا ویل موټروانې مې زده ده، چا د موټرسایکل او بایسکل چلولو خبره کوله، چا د لامبو او... دې ځوان ویل: لامبو مې زده وه.... غلی شو، خپلې پرې شوې پښې ته یې وکتلې او زیاته یې کړه: شاید راځنې هیره وي، له هغه انفجار وروسته بیا اوبو ته نه یم ښکته شوی. نور خاموش شو. ما ویل: ګوره، یو بل مهارت به دې هم زده وي! ځوان ځان راټول کړ: نه، نه. ما ویل: هغه مازیګر خو دې ښه میده کاري شروع کړې وه. د هلک مخ سور شو او بیا یې پر خپله خوله داسې لاس کیښود چې له ما یې د چوپ پاتې کیدو غوښتنه کوله. ما هم خبره بدله کړه. چې له اتاق راووتلو، وې پوښتل: جن استی به قران! (یعنې قسم دی چې سم پیری یې!) بیا یې راته ویل: تا څه ولیدلم؟ ګوره، دا خبره دې له تاسره وي، له بل هیچا سره یې شریکه نکړې. خدای خبر کوم چورت کې تللی وم. ما ویل بې غمه شه، هیچاته یې نه وایم؛ خو چې هر وخت دې، دې تمرین ته شوق راته، ماته احوال راکوه، حد اقل یو نندارچي هم ښه وي. ځوان په خندا شو او په خپل اتاق ننوت.

د مازیګر لمر لویدلو ته قریب و. د بلاک شاته پراخ میدان د سیوري تر وزرونو لاندې راغلی و. همدې ځوان پر یوه ډبره څادر غوړولی و. خواته یې پلاستیکي پښه نیغه ولاړه وه. لږ اخوا ترې یو غټ چارمغز ایښی و. که د ختکي په اندازه یې نه منئ، نو له منې خو مې والله که راښکته کړئ. د چارمغز په لیدلو مې، ذهن د هغه د ترلاسه کولو په نخچې جوړولو بوخت شو او بیا لاس په کار شوم .ماته یې شا وه. ورو - ورو ورنږدې کیدم، هغه دواړو لاسونو کې کتاب نیولی و او سر یې پرې ځوړند و. ښه ورنږدې شوم، ورو مې لاس کړ، چار مغز مې راواخیست او بیا لکه عقیدت مند مرید چې د پیر له دست بوسۍ وروسته بیرته په شا له درباره راوځي؛ همداسې په شا ترې لرې شوم او بیا مخ په اتاق وخوځیدم. چارمغز مې د چایو په پیاله مات کړ، و مې خوړه او ذهن مې ښه سم تقویه کړ. خو د شپې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

مې د ستوني وضعيت خراب شو. سهار مې د تبې احساس کاوه او ماسپښين خو بيخي حالت ګډوډ شو. هماغه ځوان ته ورغلم، ما ويل: بخيله! لکه چې ټول عمر کې دې صدقه نه ده کړې! حيران يې راوکتل. ما خبره پسې وغځوله: يو چارمغز مې درته خوړلی، اوس مې تبه نه پرېږدي. په قهر کې يې وخندل او بيا يې ويل: ما خو ويلي و چې پيری يې! خبره يې اوږده کړه: چار مغز مهم نه دی، ما ته دې بل تشويش اچولی و. څو ځلې مې جيبونه تلاشي کړل، شاوخوا مې ولټوله، اتاق کې مې بيک لټ په لټ کړ، بيخي وډار شوم، ما ويل دا پيری له کومه شو.

ما ويل دا خبرې پرېږده، را وې بخښه چې ستونی مې ښه شي. په خندا شو: که وه يې نه بخښم څه ګټه به وکړم؟ بخښلی مې دی، نوش جان دې!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ